د چارو اداره

پېنځمه ګڼه | لومړی کال ۱۴۰۳-۱۴۴۶



# اداره امور

- د لاس پلورونکو د تنظیم طرحې او د څلوېښت سلنه فیس د تخفیف په اړه بحث وشو
- رئیس عمومی اداره امور: ما مسیر و هدف مشخص داریم که پیام آور صلح و امنیت است
- ننګرهار د ۶۰۰ بستریز حوزوي روغتون د نیمګړې پروژې کارونه به ژر پیل شي
- د امارت چارو انسجام مرستیال د ایتوال دازي تولیدي فابریکې څخه لیدنه وکړه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اداره امور میاشتنۍ مجله

**د امتیاز څښتن:** د چارو ادارې لوی ریاست

**مسؤول مدیر:** مفتي احسان الله بدر

**کتنپلاوی:** مفتي نجیب الله حکیمي، ډاکټر سیف الله خالد،
ضیاء الحق رفاه

**خبریالان:** محمد شعیب رحیمي محمد الیاس احمدي،
فریدالله عزام

**انځورگر:** محمد عمر علیزی

**ډیزاینر:** وطنیار

www.aop.gov.af
media.aop.afg@gmail.com
مرمرینه ماڼۍ، کابل افغانستان
0202143351



## د خوړو او درملو فابریکو د لیدنې پردوام؛د امارت چارو انسجام مرستیال د ایتوال دازي تولیدي فابریکې څخه لیدنه وکړه

د خوړو او درملو فابریکو د لیدنې پردوام؛
د امارت چارو انسجام مرستیال د ایتوال دازي تولیدي فابریکې څخه لیدنه وکړه

د چارو اداري لوی ریاست د امارت چارو انسجام مرستیال مولوي سیف الدین تائب، د یو تخنیکي پلاوي په مشرۍ د خوړو او درملو تولیدي فابریکو څخه د تولید او کیفیت د کنټرول په موخه، د ایتوال دازي لبنیاتو او جوسو تولیدي فابریکې له فعالیتونو لیدنه وکړه.

یکشنبه، ذو القعدې ۲۷مه/غبرګولي ٤مه. دغه لیدنه د امارت چارو انسجام مرستیال په مشرۍ ترسره شوه؛ چې په کې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د پالیسۍ او مسلکي چارو مرستیال ډاکتر ملا زین العابدین عابد، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، خوړو او درملو معینیت او چاپېریال ساتنې ملي ادارې استازو هم حضور درلود.

مولوي سیف الدین تائب وویل، چې له یادې څارنې یې موخه د خوړو او درملو برخه کې د تولیداتو کیفیت کنټرول او همداراز د خصوصي سکټور څخه ملاتړ او تشویق دی.

ښاغلي تائب زیاته کړه چې د کورنیو تولیداتو وده د هېواد د ځان بسیاینې او پر خپلو پښو درېدو لپاره رغنده اهمیت لري، په وینا یې هېوادوال باید د کورنیو تولیداتو له کارولو سره د هېواد پرمختګ او خودکفایی کې فعاله ونډه واخلي.

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې د پالیسۍ او مسلکي چارو مرستیال د یادې څارنې پر مهال وویل؛ د درملو او خوړو له تولیدي فابریکو څخه یې د لیدنې موخه د هېواد د فابریکو تشویق او د هغوی مشکلاتو ته رسېدل یاده کړه او په وینا یې چې کورني تولیدات مو باید په نړیوال معیار برابر وي؛ تر څو نړیوال مارکېټ ته لاس رسی پیدا کړي.

د یادې فابریکې مسؤولینو د پلاوي غړو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د برېښنا کمبود، ګمرکي معافیت، د هېواد داخل کې د خامو موادو کمښت، د فابریکې لپاره د اړتیا وړ ځمکې نشتون، پاکو اوبو نشتون او فابریکې ته د تلونکي سړک ویجاړې خپلې عمده ستونزې یادې کړې چې د ښاغلي تائب له لوري ورته د ستونزو د حل ډاډ ورکړل شو.

په پای کې، مولوي سیف الدین تائب او ورسره مل پلاوي د نوموړې فابریکې د لبنیاتو او جوسو د تولید له بهیر، خامو موادو، لابراتوار، ګدام، بسته بندۍ او تولیداتو له کیفیت څخه څارنه وکړه چې د ښاغلي تائب له لوري یې فعالیتونه وستایل شو.

# رئیس امور فرهنگی و اجتماعی با علما و بزرگان ساحه بی بی مهرو مربوط ناحیه دهم شهر کابل دیدار نمود

مولوی محمد ربانی ناصح، رئیس امور فرهنگی و اجتماعی ریاست عمومی اداره امور با شماری از علما، بزرگان قومی و جوانان ساحه بی بی مهرو مربوط ناحیه دهم شهر کابل به منظور حل مشکلات آنها در تالار جلسات عمومی اداره امور دیدار نمود.

دوشنبه، ۲۸ ذوالقعده-پنجم جوزا ۱۴۰٤ هـ.ش


نور محمد حیدری، معاون ریاست امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور ضمن خوش آمدید به اشتراک کنندگان، گفت که مسؤولین ریاست امور فرهنگی و اجتماعی به منظور شنیدن مشکلات مردم و جستجوی راه حل آن با علما، بزرگان قومی و جوانان ولایات مختلف کشور دیدار می‌کند.

علما و بزرگان ساحه یادشده از برگزاری ملاقات ابراز خرسندی نمودند و گفتند که الحمدلله امور کشور به دست افغان‌های اصیل افتاده است، در تمام فیصله ها مستقل اند و از دردهای ملت آگاه هستند.

بزرگان قومی ساحه بی بی مهرو خواهان فعال شدن شورای این ساحه، قیر نمودن سرک زیارت و اعمار پارک تفریحی برای جوان شدند و کمبود آب آشامیدنی، بیکاری جوانان، نبود ترانسپورت شهری، کمبود استادان اناث و نبود ساختمان های معیاری را از جمله مشکلات اساسی و بنیادی خویش یاد کردند.

رئیس امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور خواست ها و مشکلات اشتراک کنندگان را استماع نمود و اطمینان داد که تا حد امکان به مشکلات آنها رسیدگی صورت می‌گیرد و گفت که مسؤولین امارت اسلامی افغانستان روحیه و فکر ایجاد سهولت، آبادی و ترقی کشور را دارند.

این دیدار با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.



## د کابینې یوویشتمه غونډه: د لاس پلورونکو د تنظیم طرحې او د څلوېښت سلنه فیس د تخفیف په اړه بحث وشو

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې یوویشتمه غونډه د ښاغلي رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند په مشرۍ دوشنبه (۱۴۴۶ هـ.ق کال ذوالقعده ۲۸مه/ غبرګولي ۵مه نېټه) ترسره شوه.

دا غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه، په کې د هېواد په مهمو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي موضوعاتو بحث او پرېکړې وشوې.

غونډه کې د لاس پلورونکو د تنظیم طرحه تایید او د څلوېښت فیصده فیس په تخفیف د مشرتابه له منظورۍ وروسته د تایید وړ وګڼل شوه.

همدا راز د اقتصادي زونونو د ارزونې کمیټې راپور تأیید او د صنعت او تجارت وزارت ته دنده وسپارل شوه چې په دې اړه خپلې چارې له مربوطه ارګانونو سره په همغږۍ ترتیب او پرمخ یوسي.

د یادونې وړ ده، چې د کابینې یاده غونډه د ګڼو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او پرېکړو وروسته د خیر په دعاء پای ته ورسېده.




## برنامه رهنمودی آموزشی ارزیابی اجراآت کارکنان در وزارت ترانسپورت و هوا نوری برگزار گردید

برنامه رهنمودی آموزشی ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی در روشنایی هدایت مقام ریاست الوزراء در وزارت ترانسپورت و هوا نوری برگزار گردید.

رئیس امور کارکنان وزارت ترانسپورت درمورد اهمیت پروسه ارزیابی اجراآت صحبت نموده و افزود که هدف از برگزاری پروسه ارزیابی اجراآت کارکنان بهبود فعالیت های اداره می‌باشد.

عزت الله امان، معاون ریاست امور حقوقی و پالیسی های خدمات ملکی اصلاحات اداری و خدمات ملکی گفت: تکمیل پروسه استخدام، بهبود عرضه خدمات با کیفیت به مراجعین، شفافیت، رضایت، احساس مسؤولیت، تشویق کارمند و بهبود اداره از مزایای ارزیابی اجراآت کارکنان است.

کارشناسان نظارت از ارزیابی اجراآت اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی در مورد روند ارزیابی اجراآت، اهداف اساسی پلان، عملکرد کلیدی شاخص ها و فورمه های ارزیابی اجراآت توضیحات لازم ارائه کرده و به سوالات مطرح شده جوابات قانع کننده داده شد.

در این برنامه که رؤسا، آمرین و کارمندان آن وزارت اشتراک نموده بودند با دعای خیر و فلاح به پایان رسید.

## د چارو اداري لوی رئیس؛ ولس ته د اغیزمنو او چټکو خدمتونو وړاندې کول د اسلامي امارت له لومړیتوبونو څخه دي

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم په اساس د وزارتونو او ادارو د دفتر ریاستونو رئیسانو او امرینو ته د فرمانونو، حکمونو، قوانینو او اداري مراسلاتو زده کړیزه دوره چې لس ورځې وړاندې پیل شوې وه نن پای ته ورسېده.

دغه غونډه سه شنبه ذوالقعده ۲۹مه د غبرګولي ٦مه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د غونډو تالار کې د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور او د وزارتونو د دفتر رئیسانو په ګډون ترسره شوه.

د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور وویل: امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تل په دې هڅه کې دی، چې هر مسؤول د خپل کاري مسؤولیت په رڼا کې لازم مهارتونه ترلاسه کړي؛ ترڅو چارې مؤثرې، منظمې او له هر ډول ځنډ او خنډ څخه خوندي پاتې شي.

د ادارو د کارکوونکو د ظرفیت لوړول نه یوازې د کاري بهیر چټکتیا تضمینوي، بلکې د خلکو رضایت هم تر لاسه کوي، چې دا د اسلامي نظام له مهمو موخو څخه ګڼل کېږي.

نوموړي وویل: خلکو ته د اغیزمنو او چټکو خدمتونو وړاندې کول د افغانستان اسلامي امارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. دا موخه هغه مهال ترلاسه کېدای شي چې زموږ د ملکي خدمتونو لوړ رتبه او ټیټ رتبه مسؤولین د علم، مهارت او مسلکي وړتیاوو په ګاڼه سمبال وي. د مدیرانو او کارکوونکو زده کړه او د هغوی د ظرفیتونو لوړول د اسلامي نظام مسؤولیت دی.

یاده غونډه د قرانکریم په تلاوت پیل او د خیر په دعاء پای ته ورسېده.






## رئیس عمومی اداره امور: ما مسیر و هدف مشخصداریم که پیام آور صلح و امنیت است

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکم په اساس د وزارتونو او ادارو د دفتر ریاستونو رئیسانو او امرینو ته د فرمانونو، حکمونو، قوانینو او اداري مراسلاتو زده کړیزه دوره چې لس ورځې وړاندې پیل شوې وه نن پای ته ورسېده.

دغه غونډه نن سه شنبه ذوالقعده ۲۹مه د غبرګولي ٦مه د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د غونډو تالار کې د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور او د وزارتونو د دفتر رئیسانو په ګډون ترسره شوه.

د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور وویل: امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تل په دې هڅه کې دی، چې هر مسؤول د خپل کاري مسؤولیت په رڼا کې لازم مهارتونه ترلاسه کړي؛ ترڅو چارې مؤثرې، منظمې او له هر ډول ځنډ او ځنډ څخه خوندي پاتې شي.

نامبرده با اشاره به برخی تبلیغات منفی علیه امارت اسلامی گفت: افغان‌ها از ذلت، تفرقه و بی ثباتی رها شده اند، امروز دشمنان اسلام که ملت ما را به دسیسه های خطرناک گروه، سمت و حزب تقسیم کرده بودند از بین رفته اند؛ اکنون فضای برادری حاکم است، یک ملت هستیم، یک صدا هستیم و یک هدف داریم و این یک فرصت تاریخی است که باید حفظ شود.

رئیس عمومی اداره امور گفت: ما مسیر و هدف مشخص داریم که پیام آور صلح و امنیت است، افغانستان از فضای امن برخوردار است و همین فضا اساس آبادی کشور است، سهولت ایجاد شده است، مسیر پیشرفت باز شده است و باید بدانیم که دشمنان اسلام هیچگاه رفاه مسلمانان را نمی‌خواهند، بنابرین افغان‌ها منتظر بیگانگان نباشند و کشور خویش را آباد کنند.

این مراسم که با تلاوت قرآن کریم آغاز شده بود با دعای خیر پایان یافت.

# ننگرهار د ٦٠٠ بستریز حوزوي روغتون د نیمگړې پروژې کارونه به ژر پیل شي



د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم او د ملي تدارکاتو کمېسیون د پرېکړې پر بنسټ، د ننگرهار ولایت د ٦٠٠ بستریز روغتون نیمگړې پروژه بېرته د تطبیق پړاو ته داخله شوه.

په همدې موخه، د چارو اداري لوی ریاست څخه د پروژو د انسجام ریاست، د عامې روغتیا وزارت او د ملي پراختیا شرکت د تخنیکي استازو ترمنځ گډه غونډه ترسره شوه.

په غونډه کې د پروژې د تخنیکي، تدارکاتي، اجرایي او نورو اړوندو ستونزو او موضوعاتو په اړه هراړخیز بحث او نظریات تبادله شول.

د غونډې پایله دا وه چې ملي پراختیا شرکت به ژر تر ژره د عملي کار پیل وکړي او ټولې تخنیکي او اداري ستونزې به د اړوندو ادارو په همغږۍ حل شي.

د یادې پروژې له بشپړېدو وروسته، د ننگرهار ولایت او د ختیځ زون ولایتونه به له معیاري روغتیایي خدمتونو برخمن شي، دا روغتون چې ٦٠٠ بستره لري، د خلکو د درملنې کیفیت به لوړ کړي،

د خلکو روغتیایي اړتیاوې به په کور دننه پوره کړي او د درملنې لپاره به د گاونډیو هیوادونو ته د تگ اړتیا راکمه شي.

همداراز، دا پروژه به د اقتصادي ودې، د کار فرصتونو د رامنځته کېدو، د خلکو د ژوند د شرایطو د ښه والي او د عامې روغتیا سکټور د بنسټونو د پیاوړتیا سبب شي.

د چارو اداري لوی ریاست او د عامې روغتیا وزارت ژمن دی چې د دې ستري پروژې د تطبیق بهیر به د مشخص پلان له مخې، د تاکل شوې نېټې سره سم او د جدي څارنې لاندې پرمخ بوځي.



## بیست و دومین جلسه کابینه: در مورد تعیین حریم دریاها و ارائه خدمات به گردشگران بحث گردید

بیست و دومین جلسه کابینه امارت اسلامی افغانستان به ریاست محترم الحاج ملا محمد حسن آخند، رئیس الوزراء امروز دوشنبه ۱۹ ذوالحجه ۱٤٤٦ هـ.ق برابر با ۲٦ جوزا ۱٤۰٤ هـ.ش برگزار گردید.

این جلسه کابینه که با تلاوت قرآن‌کریم آغاز گردید در آن در مورد مسائل مهم اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور بحث و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در این جلسه پیرامون سرسبزی حریم دریا ها و ارائه خدمات برای بازدید کنندگان بحث شد و به هیئتی وظیفه سپرده شد تا ادارات مربوط را مکلف نماید که در بخش های خویش اقدامات عملی لازم را انجام دهند.

قابل یادآوری است که این جلسه کابینه بعد از بحث تفصیلی در مورد شماری از موضوعات با دعای خیر پایان یافت.




## د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري دوه ورځنۍ روزنيز پروګرام ماليې وزارت کې پيل شو

د رياست الوزراء محترم مقام د هدايت په رڼا د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د کړنو ارزونې لارښودي دوه ورځنۍ روزنيز پروګرام ماليې وزارت کې جوړ شو.

دغه غونډه نن سه شنبه ذي الحجه ۲۰مه د عبرګولي ۲۷مه د ماليې وزارت د غونډو تالار کې د چارو اداري لوی رياست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئيس شيخ مولوي محمد طاووس طارق او د ماليې وزارت اداري مرستيال مولوي دوست محمد مخلص په ګډون ترسره شوه.

شيخ مولوي محمد طاووس طارق د پروګرام ګډونوالو ته د اجرااتو د ارزونې پر اهميت، ګټو او ځرنګوالي مفصلې ځرګندونې وکړې.

نوموړي څرګنده کړه چې د اجرااتو ارزونه نه يوازې دا چې مامورين د ادارې د پلانونو د مؤثر پلي کولو لپاره هڅوي، بلکې دا بهير د امارتي ادارو د کاري چټکتيا، سمون او خلکو ته د غوره، شفافو او پر وخت خدمتونو وړاندې کولو لامل ګرځي.

دغه راز د ماليې وزارت اداري مرستيال مولوي دوست محمد مخلص د ملکي خدمتونو ادارو کې د اجرااتو ارزونه اصل وباله او زياته يې کړه چې د اجرااتو ارزونه د امارتي ادارو د پرمختګ او خلکو ته په ښه توګه د خدمتونو وړاندې کولو سبب کېږي.

پای کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري د حقوقي چارو او پاليسيو رياست د اجرااتو له ارزونې د کارپوهانو له لوري د اجرااتو د ارزونې بهير، د پلان اساسي موخې، د کړنو کليدي شاخصونه او د اجرااتو د ارزونې فورمې په بشپړ ډول تشريح او توضيح کړې او د ګډونوالو پوښتنو ته يې د قناعت وړ ځوابونه وړاندې کړل.

دا غونډه چې د قرانکريم په تلاوت پيل شوې وه، د خير په دعاء پای ته ورسېده.

اسلامي امارت د خلکو لپاره یو نعمت دی او په ټولو برخو کې متوازن پرمختګ کړی دی.
اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله یې علم ته ښه زمینه برابره شوې ده.
هېوادوال باید خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور
د چارو ادارې لوی رئیس

aop.gov.af